دافغانستان اسلامي جمهوريت
دانتخاباتو دشکايتونو کميسيون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

# د انتخاباتي شکايتونوکميسيون اعلاميه

کابل ښار: ۹/ ۱۳۸۹/۳

په غير قانوني وسله والو ډلو کې د کانديدانو قومانداني يا غړيتوب د چارو د څېړنو کميسيون ،چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون تر مشرۍ لاندې کارکوي او د انتخاباتو د قانون د ۱۲ مادې د ۷ فقرې پر اساس په غير قانوني وسله والو ډلوکې د کانديدانودغړيتوب يا د قوماندانۍ د چارو د څېړنو مکلفيت لري د رپوټ پر بنسټ،د ولسي جرګې د کانديدانو په لومړني ليست کې۸۵ تنه د غير قانوني وسله والو ډلو سره د تړاو په تور پړ ګڼلې دي.
نو ځکه د انتخاباتي شکايتونو کميسيون د نومړو څخه غوښتنه کوي ،تر څو ددې اعلامې د خپريدو څخه د غبر ګولي تر ۱۴ نيټې پورې د ټاکنو خپلواک کميسيون ته ورشي او له خپل ځان څخه دفاع وکړي.
د انتخاباتي شکايتونو کميسيون، د انتخاباتو د قانون د ۱۲ مادې د ۷ فقرې پر بنسټ د ولسي جرګې د انتخاباتو د لومړي ليست هغه کانديدان ،چې په غير قانوني نظامي ډلو پورې اړوند وپيژندل شي ،د کانديدۍ د حق څخه محرومو ي .

**د انتخاباتي د شکايتونو کميسيون**